# د افغانستان د بچیانو په مخ د علم دروازې بندوی،

# له پردیو استادان ګدایي کوی!

# دې ته وایی له شرمه دپاسه!

## څه عجیبه او شرمووونکی تناقض!

د طالبانو د « قیقانوس» کلو د جهل او وحشت واکمن نظام د لوړو زده کړو وزیر ندا محمد ندیم د داعش پروره ترکیې واکمن رژیم له سفیر سره په خپلو «شخوند وهلو» کې د افغانستان پوهنتونو ته د استادانو او روغتیایي مراکزو لپاره د طبي متخصصینو د مرستې غوښتنه کړیده!

که دا کتاس مغزه واکمن طالبان د علم او پوهې لیوال دی! نو دوی بیا ولې د افغانستان د ځوان نسل په خاصه توګه د نجونو پر مخ د ثانوی اوعالی زده کړو دروازې ترلې دي!؟ د خپل وطن ځوانان یی له زده کړو او علمی پرمختګ محروم کړی! بیا له پردیو د استاد او متخصص ګدايي کوی؟؟؟

د علمی م او ټولنپوهنیزو تحلیلونو پر بنسټ، طالبان د یوې مشخصې اقتصادي طبقې خالص استازي نه ګڼل کیږي، بلکې دوئ د څو ټولنیزو قشرونو او قبایلي محافظه کارو ځواکونو سیاسی استازیتوب کوي. طالبان د کوچني بورژوازي (خورده بورژوازی) یوه کوچنی قومی مذهبي قشر او د فیوډال کمپرادور بورژوازی، د سیمه ایزو کلیوالو او قشرونو سیاسی استازي ګڼل کیږی. له دې منظره، طالبان نه د صنعتي کارګرې طبقې استازي دي او نه د ملي صنعتي بورژوازی. بلکې دمذهبي دلاله خرده بورژوازئ او د خصوصی مالکیت د ساتندوئ ساطور به توګه عمل کوی، او د کلیوالی محافظه‌کارو قشرونه په ملتیا او د نوي دولتي ـ اداري واکمن قشر پر سست ائتلاف ولاړ نظام یی جوړ کړی ده.

د دوئ د جنګیالیو لویه برخه د لرې پرتو سیمو بی زده کړې کلیوال زیارکښان، وزګار او غریب خلک او منځنیو بزګرانو څخه ترکیب ده. د طالبانو اصلي ایډیالوژیک او سازماني بنسټ د دینی کلاسیکو محافظه کار و اصولو او پښتنی لرې پرتو سیمو کلیوالی دود ګډ ترکیب پر اوصولو ولاړ ده، او د مدرسو د ملایانو او مذهبي علماوو په وسیله، دا اصول د محمدی شریعت دنفاذ په نوم پلی کوی. په دې توګه په شرقی، جنوب غربی او جنوبی سیمو کې ځینې قومي او قبیلوي نفوذ هم د طالبانو د ځواک مهمه برخه تشکیلوی. او همدا ډول د وخت په تیرېدو، ځینې سوداګر، قراردادیان او سیمه اییز اقتصادي عناصر هم د خپلو ګټو د ساتنې په منظور دوئ سره ملتیا لری.

په ځانګړي ډول له ۲۰۲۱ کال وروسته، طالبانی واکمنۍ، دخپل قدرت په پړاو کې خپله اشرافی بوروکراسی هم رامنځ ته کړې اوله بېلابېلو اقتصادي او اداري قشرونو سره یی اړیکې پراخې کړې دی. په عین زمان خپل هدف ته د رسیدو او تطبیق په منظور ، د وخت او سیمې په رنګ او شکل لنډ مهاله بدلول د دوی د طبیعی جوړښت (ارتجاعی)کړندلاره ده.

په نړیواله کچه هم بغیر له روسیی فدراسیون بل کوم څرګند هیواد د دوئ رسمی پیژاند نه ده کړی. خو په غیر رسمی ډول د اروپا اتحادیه، ځینې غربی هیوادو، هند، چین، ایران، ازبکستان، قرقیزستان، ترکمنستان او نور لرې او نژدی هیوادو، د خپلو ملی ګټو دساتنې په منظور له دوئ سره پراخه سیاسی پرمختللی تعاملات رامنځ ته کړی او راشه درشه یی پیاوړې کړې ده.

## د اقتصاد له پلوه

طالبان له خپل تشکیل نه تر اوسه په اقتصادی لحاظ د افغانستان د مظلوم ولس په ضعیفو اوږو سپاره دی. دوئ د طبیعی منابعو او معادنو په ښکاره چور او تالان، د وسلو او د مخدره موادو په قاچاق سربیره په کلیو او بانډو کې عشر او زکات، په ښارو کې له دوکاندارانو،کسبه کارو ، بیوزله لاس پلورونکو په زور د مالیه او برعایدات په نوم پیسې راټولوی ، براﻻ رشوت اخلی ، دعام

المنفعه نمایشی پروژو اکثرا قراردادیان دوی سره شریک، یا د دوی خپلوان او یا د دوی انډیوالان دی. له ټولګټو عام المنفعه پروژو لسمه برخه په زور ځانګړې کوی، او په ځینې پروژو کې سمه نیمه ۵۰٪ ګټه له قراردادی شرکتو په خط کشی اخلی. د کور جوړولو لپاره، تعیین شوې رشوت حتمی ده چې باید ورکول شی ترڅو کور ودان شی.
سربیره په امریکا چې په اونی کې له ۴۰ میلیونه زیات ډالر په مستقیم اوغیر مستقیم ډول دوی لپاره ځانګړې افغانستان ته لیږدوی، د ملل متحد او نو ر نړیواله مرستندویه مؤسسو او سازمانو له لاری د افغانستان بیوزلی ولس سره د مرستې له لارې او همدا ډول دنړۍ یو لړ نورو هیوادونه لکه چین، هند ، ایران جرمنی د اروپا اتحادیې نه د بشری مرستو په نوم چې کومی پیسې راځی خپله برخه جلا کوی، او په دې بهیر کې خپل سیاسی او اقتصادی تعامل هم ورځ تر بلې مخ په وده پیاوړې کوی؛ د پاکستان د آی اس آی او ځینې مشخصو کړیو له لوجیستیکی او ایدیالوجیکی مرستو طبیعتاً برخمن دی.
دا کومې مرستې او کومکونه چې د وږی او مظلوم ولس په نوم افغانستان ته راځی، دا د غم ځپلی ولس د فقر، وزګارۍ او لوږې نه د خلاصون په خاطر؛ په مطلوبه او سمه طریقه نه مصرفیږی بلکه دا امکانات په مستقیم اوغیر مستقیم ډول د طالبانی واکمنې بیروکراسۍ په قهاره منګولوکې راګیر ده او له هره اړخه خپله شوکه نوکه کوی. نو له دی کبله ده چې هر طالب واکمن بډای شوی او د سپېڅلی محمدی شریعت په تطبیق دوه، درې ، څلور ښځې کوی او دا سلسله په ډیر رقابت دطالبانو د مشرتابه په منځ کې جاری ده.
دا رقابتونه اوسیالۍ په داسې حال کې کیږی چې عام وګړی یوې مړۍ ډوډۍ ته حیران دی! ځینې ځوانان د بیکارۍ له کبله ځانونه وژنی! او ځنې کورنۍ د بی وسۍ له کبله خپل ماشومان پلوری.
دا په داسې حال کې ده چې په میلیونهاو ډالره مرستې زمونږ هیواد ته رادرومی خو دخلکو په ژوند کې هیڅ بدلون نده راغلۍ! فقر د ولس د هډوکو مغزو ته ورننوتۍ ، او د دی غیر عادلانه ، استبدادی، تبعیض او تناقض نه ډک ټولنیز حالت او واکمنې زمونږ ټولنه په ډیره منډه د دوه طبقو د جوړیدو په لور په ځغاسته کړی ده: ۹۵٪ فقیر ، بی وزله او وزګار زیارکښان او ۵٪ واکمن طالبانی واکداران.
که څه هم بل خواته نړیوال بنسټونه لکه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP)، بیا د افغانستان د خلکو د ژوند بل انځور وړاندې کوی او د دوی د وروستي راپور له مخې، په ۲۰۲۵ زیږدیز کال کې شاوخوا ۲۸ میلیونه افغانان، چې د هېواد نږدې ٪۷۴ نفوس جوړوي، د خپلو لومړنیو اړتیاوو د برابرولو توان نه لري او له ٪۸۰ څخه ډېرې کورنی د پورونو تر درانه بار لاندې ملا کړوپې شوی په ډیره سختی سره ژوند کوي. او نږدې درې پر څلورمه برخه کورنی د ژوندي پاتې کېدو لپاره داسې لارو چارو ته اړ شوی چې د هغوی ژوند،انساني کرامت او عزت له جدي ګواښ سره مخ ده.
که د افغانستان ربښتنی انځور ته ځیر شو نو د ټولنې عیني واقعیت تر دې لا ډېر تریخ او دردونکی ده. د خلکو پراخ او قاطع اکثریت د لوږې، بېوزلی، وزګاری او محرومیت په کندې کې راګیر دی چې د تېښتې لار یی هم نشته. د اوسنی ټولنیز تریخ واقعیت له مخې، نږدې ۹۵٪ ولس د بېوزلی ، وزګاری او اقتصادي بېوسی ژوند تېروي. یوازې یوه کوچنی اشرافي او امتیاز لرونکې کړی، چې د طالبانی واکمنې اداري چارواکي، د دوی نږدې لوټمار ملګري او قراردادیان چې د طالبانی واکمنتیا له برکته شتمن شوي کسان پکې شامل دي؛ د هېواد اقتصادي سرچینې او امتیازات په خپل انحصار کې راوستی او ورځ تر بلې دلا چاغیدو په لور روان دی.
له همدې امله، هغه شمېرې او احصایې چې د امپریالیستي بنسټونو او د لیبرالي اقتصادي پروژو د پلي کوونکو له لوري خپرېږي، د افغانستان د ولس د ژوند له عیني واقعیتو سره بشپړ په تضاد کې دی. دا ډول ارقام ډېری وخت زمونږ د ټولنی د ناوړین ژوروالی له سترګو غړاند ساتی او یا ډیر لږ ښکاره کوی، حال دا چې د بېوزلو خلکو تش دسترخوانونه، د ماشومانو لوږه، د کار نشتوالی، د پورونو زیاتوالی د خلکو پر اوږو ستر دروند بار او له وس نه بیرون شوی ده.
په همدې هکله د ۲۰۲۶ کال د جون په ۱۹مه، د افغانستان د اقتصاد وزارت وویل چې «افغانستان د نړی د لسو تر ټولو بېوزلو هېوادو په ډله کې شمیرل کیږی». د دې وزارت د معلوماتو له مخې، «د هېواد %۵۵ وګړي د بېوزلی تر کرښې لاندې ژوند کوي، چې له دې ډلې %۵۲ یې له مالي یا عایداتي بېوزلی سره مخ دي، او له %۴۴ څخه ډېر وګړي خپلو کورنیو ته د کافي خوړو د برابرولو توان نه لري او د خوړو له ناامنی سره مخامخ دي.» دا وحشی واکمن د دې ارقامو په ورکولو هم خجالت نباسی!؟

## دعمران پروژې

اصولا کله چې عمرانی پروژې پلي کیږی، لمړې خلکو ته د بدیل هستوګن ځایونه تعینیږی، بیا اساسی زیربنایی پلانونه عملی کیږی. لیکن دا د سړکونو جوړولو له پروپاکنده ډک اخ او درب بله زړه بوږنونکې انسانی تراژیدی رامنځ ته کړی چې دکابل او

ولاياتو په هستوګنو خلکو د «امارتی ملکيت»په نوم کورونه ور نړوی. په دې سر بيره په مليونهاو مهاجر چې له ايران او پاکستان نه راشړل شوی او لا راشړل کيږی، په کابل او نورو ښارو په خوا او شا کی دفقر او وزګاری په ډير خواشينونکی حالت دمرګ او ژوند تر منځ شپې او ورځې صباکوی؛ دا دسرک جوړولو په نوم د کورونو ورانول او د خلکو بی کوره کول، دفقر او وزګارۍ ، غربت، مهاجرت، او اقتصادی ستر ناوړين دپاسه، ښاری ژوند له بد نه بدتر حالت ته ليږدولی او د افغانستان د خلکو د ټولنيز ژوند يی د زړه بوږنونکی منظر په لور په ډيره چټکی ، بحران او سترې انسانی تراژيدی ته ټيل وهلی ده.

## دپوهنې انځور

طالبان د مدرنو زده کړو ستر مخالف دی ، دا ځکه چې مدرنه علوم او لاسته راوړنې په بنيادی لحاظ د دوئ د دينې تفکر او افراطی ايډيالوژی سره سخت په ټکر کې دی. نو ځکه يی د افغانستان له پوهنتونو لکه : کابل، هرات، جلال آباد، مزار شريف، فارياب، کندز، خوست، تخار، . . . ځخه با تجربه استادان، چې هر يو په خپله رشته کې په کلو کلو درس ورکړی ، او خورا ډيرې علمی تجربې، تخصص او دکتوراوې لری په بيلا بيلو پلمو له خپلو دندو ګوښه کوی او اخراجوی او په ځای يی هغه ځنګلی چړيان مقرروئ چې په مغزو کی يی د مدرنه علومو بځرکی په الکترو مايکروسکوپ هم نه ليدل کيږی!؟ اوس دا په زور تقاعد ته سوق شوی استادان د پوهنې وزګار لښکرپه توګه په ټولنه وراضافه او يو بل علمی کادری ناوړين يی د ټولنی په ضعيفو اوږو وربار کړ.

پوهنتون د پرمخ تللی ساينسی علومو دزده کړې اوڅيړنيزو تحقيقاتو علمی مرکزده؟ هلته د ساينس او ټکنالوژی سره سرو کار ده! هلته دانسان آناتومی دڅيړلو ، تسليخ او پيوند، د زلزلې ريشتر -شدت- عمودی- افقی حرکت او موج، تفاضلی معادلاتو ، احتمالاتو، ستندرد او کوډونه، د ساختمانی موادو دکيفيت او کنترول، د زراعتی نوښتو، دورګه (Hybrid) پيوند، کرنيز انکشاف، د کانو د تشخيص، د طبيعی عناصرو پيژندل او ترکيب، اټمې تحقيقات، د فزيکی قواو عمل، سرعت- زمان- مکان ، ژيولوژی او د ځمکې لاندې زيرمو د تحقيق، تفحص او استخراج، . . . مرکز ده؟ هلته د کنز، قدوری، مستخلص، مونيه، نورالانوار، شرح جامی، مشکوة، جلالين، هدايه، . . . .چې جنجال يی په اودس ماتی! په سر دپګړۍ ترلو! د خلکو په شخصی اموراتو کې مداخله! د ږيرې لنډوالئ يا اوږدوالئ ! د پښو مسح يا مينځل ! حنفی که شافعی، حنبلی که مالکې؟ سنی باور که شيعه يا اسماعيليه؟ او دا ډول مزخرفی او اپلتوځائ نده!؟

## قضاوت په تاسو!

اوس دا وراسته مغزی طالبان د پوهنتونو دا مډرن علمی نصاب او اساسات چې نژدې يوه پيړۍ کار ورباندې شوئ او په سلهاو زره متخصصين او پوهان يی د افغانستان زخمی ټولنې ته د خدمت لپاره جوګه کړی؛ له منځه وړی او په ځای يی پورته ياد شوی مزخرفات چې په اوسنی وخت کې هيڅ مفهوم او معنی نلری ځای په ځای کوی!؟ د هيواد د علمی کادرونو او علمی متخصصينو په تشه کې اوس دا «خود کش بيګانه پرور» دې ته اړ شوی چې بهرنيو ته د علمی کادرو او متخصصينو د ګدايی لاس وروړاندې کړی ترڅو ديوې تبليغاتی بيلګی په توګه ورځښې ګټه پورته کړی، او په اصطلاح د اوسنی پرمخ تللې نړئ له شرايطو سره ځان جوګه کړی!؟؟

دا بلکل سمه ده چې مونږ بهرنی متخصصينو ته اړتيا لرو ، د دې لپاره چې افغان متخصصين په ورځنی مدرنه علمی ټکنالوژی او تحقيقی ژوره روزنه بلد او د دې وړ کړی چې افغان متخصصين د خپل هيواد د ځوانانو په روزنه او تعليم له نړيوال معيار سره انډول شی؛ بهرنی استادان منو د دې لپاره چې زمونږ د تدريس ، زده کړې، او دپوهنې چاری او نوښت له نړيوال علمی ميتود سره متوازن او همغږه شی ، او په دې توګه د افغانستان د پوهنتونو استادان په نړيوال علمی معيار پياوړی کړي.

که تاسو په ربښتيا استادانو، ډاکټرانو او متخصصينو ته اړتيا لرئ؛ نو بيا ولې خپل با تجربه استادان له خپلو دندو وزګاره کوئ؟ ولې د هېواد د نجونو او ځوانانو لپاره د ساينسی علومو اوعالې زده کړو دروازې نه پرانيزئ؟ چې په خپل مټ، قوت او قدرت خپل جنګ ځپلئ هيواد په خپلو پښو ودروی! د بهرنيو استادانو راتلل کوم عيب نه دی؛ دنړۍ علمی کادرونو رابلل او د هغوی له علمې پانګې ګټه اخيستنه هيڅ عيب نه لری. غير له دې چې عيب نلری ډير ګټور کار هم دئ ، ليکن هغه استادان دچا لپاره راغواړئ؟

د تاسو د دې کار تشه او عيب دا دی چې خپل استادان په بيلا بيلو پلمو له کاره باسې، د روزنې لارې ګودر يی بندوې، خپلو متخصصينو ته د ودې او پرمختګ د لارې چارې مخنيوئ کوی او يا يی بيخی وزګاروی! د خپل ولس او ملت نيمايی ځوانان


ايميل آدرس : - ks4920326@gmail.com - jaswrshja66@gmail.com ويبسايت : http://www.afghanpf.com

(نجونې) مو له پوهنتونه او عالی زده کړو محروم کړی، « لکه ړنده سپی په خپلو بچیانو غول کوئ» او بیا د هماغې تشې د ډکولو لپاره پردیو ته لکی وهی او دروازې یی ټکوئ!

په ملی تاریخی لیدلوری، افغانستان د علمی څیرمو ستر مرکز و، د علم له اړخه یی چاته اړتیا او کمښت نه درلود او نه یی د ګډایی کاسه په لاس چانه دعلمی کادرونو غوښتنه کړې! دا د مولانا، ابن سینا او البیرونی هیواد دی، چې د نړی طبابت، علمیت ادبیاتو او هنر ته یی خورا ستر تاریخی ، علمی او انسانی پانګه پریښې ده. که تاسو رښتیا وایئ ( چې نه یی وایئ) نو د دې حیاتی موضوع دحل لمړی ګام داده چې د پوهنتونو دروازې د نجونو او هلکانو پر مخ پرانیزئ!

کله چې د نجونو او هلکانو په مخ د علم دروازې خلاصې کړئ او په نړیوال معیاری کچه لازمه اسانتیاوې ورته برابرې کړئ تاسې بیا وګورئ چې دا ځوانان ( نجونې او هلکان) د څو کلو په ترڅ کې څومره متخصص استادان او ډاکټران، انجنیران، استادان، حقوقدانان، په مختلفو برخو کې زمونږ دټولنې دخدمت لپاره جوګه کیږی؟
تاسو افغان محصلینو او استادانو (ښځې او نارینه) ته، دلوړو زده کړو تحصیلاتی علمی بورسیی او اسانتیاوې برابرې کړئ نورې پرمخ تللی نړئ ته یی د تخصص او عالې زده کړو لپاره ولیږئ ( لکه د نور هیوادو د علمی پیاوړه کادرو په شان)، هیواد ته په بیرته راتګ دوئ لپاره د کار او خدمت زمینه برابره کړئ! بیا دافغانستان علمی پیاوړتیا وګورئ.

## او شرمیدلو جاهلانو !

د «قیقانوس» زمانې واکدارانو! تاسو خلکو ته د خدمت په ځائ، ځان دخدائ نمایندګان بولی، پخوا به خلکو ویلې چې ملا د مځکې په مخ دخدائ سیورئ ده، خو اوس تاسو دا متل بلکل په ځان راڅرخولی، د خدای ځائ ناستی یئ او دخدائ په ځائ حکومت کوئ.
تاسو د علمی کادرنو د غوښتنې په ځای؛ خپلو افغانو ته د علمي رغاونې خپلواک ملی روزنیز سیاست او شرایط برابر او چمتو کړئ او د علمی کادرونو د روزنې لپاره خپل تعصب او توکمیز سیاست لرې کړئ ! هلکانو او نجونو ته پراخ علمی روزنیز رقابت په مستقله او مسؤلانه لید پکار واچوئ بیا وګورئ چې دا ټولنه د څو کلو په ترڅ کې څومره وده او پرمختګ کوئ؟ تاسو پنځه کاله پوره د نجونو په زده کړه بندیز لګولی ، تاسو د تعلیم په بندیز د ټولنی نیمه برخه زیانمنه او هیواد مو له سترې علمی تشې سره لاس او ګریوان کړئ ده.

## ای د امریکایی ښکیلاک لاسپوڅو طالبانو!

هیر مو نشی چې تاسې دقطر د پیمان له مخې د امریکا د فاشیستی نظام په مټ د افغانستان په خلکو باندی دیوه شرمونکې معاهدې پر بنسټ وتپل شوئ! تاسې د کابل تر دروازو ذلیلزاد رانوستئ؟ دا ستاسو پرکټی حامد کرزی تاسو ته ارګ ته د ننوتو لاربښونه ونکړه ور داخل یی نکړاست؟ او تاسو یی د قندهاری قبیلوی فاشیسم په برکت د افغانستان په ولس تحمیل او واکمن نکړئ؟ تاسې متحجره او کټاس مغزه طالبانو ته دا خبرې داسې اثر لری لکه چې «اوښ ته ډول وهې» او یا « د خره سر پورې یاسین وایې».
نو د تاسې بی شعوره ځناورو ریشې، د علمی پوهی او د ولس ټولنیز ملی انقلابی غورځنګ د یو ستر مارش په ترڅ کې باید له بیخه راوویستل شی، دا بنسټیز انقلابی بدلون د ټولو بدبختیو نه د خلاصون او ژغورنې یواځینی لار ده. له دې پرته د افغانستان غم ځپلی ولس لپاره بله لاره نشته!
د تاسولونې او خویندې په ترکیی، پاکستان، ایران او نورو هیوادو کې، د سوکاله ژوند په درلودو په خپله زده کړه او کار بوخته دی، دهیواد ځینې نور شتمن او مالداره کسان هم چی مالی امکانات لری هغوئ خپل اولادونه د خپلو امکاناتو په مټ دتاسو په شان، د زده کړې لپاره بهر لکه ایران، پاکستان، ترکیه او نوروهیوادو ته لیږی اویا یی د انلاین زده کړو شرایط ورته مهیا کړی. یوازې د مظلوم ولس بچیان دی چې هم د ګوډاکی لاسپوڅی مستعمراتی جمهوریت په دوره کې له عصری علومو بی برخې و، اوس هم د خدائ ځائ ناستی قهاره او وحشی واکمنو طالبانو له تبعیضه ډکه واکمنی کې له لوست او تعلیم نه بی برخی دی!؟
دلته په وطن کې دې مظلوم ولس بچیانو لپاره تاسوعلمی کچه او وړتیا د لنګوټی په اوږدوالی اندازه کوئ ! او دپوهې او علمیت مقیاس یی د ږیرې د اوږدوالی او لنډوالی په کچه!
تاسو که ځان د دې ټولنې واکداران بولئ لږ دخپل جهالت د خره له سره راکوز شئ !
په وجدان ( چې تاسې نلرئ ) ووایئ دتاسې کړنې په علمی لحاظ د ټولنې اوسنیو غوښتنوسره په انډول کې دی که په تناقض کې؟
لږ د خپل ضمیر او وجدان محکمې ته چې نې لرئ سر کوز کړئ او په ځیر خوا او شا سیال او تربور، ګاوندی، لرې او نږدې


ایمیل آدرس : - ks4920326@gmail.com - jaswrshja66@gmail.com ویبسایت : http://www.afghanpf.com

هیوادو ته چې له تاسو ډیر مسلمان او آن اسلام له هماغه جایه سر راپورته کړی، وګوری چې څنګه بی تبعیضه خپل د پوهې او تعلیمی کاروان بهیر څومره په عادی او متوازن ډول مخ په وړاندې بیایی؟!
تاسو له افغانستان نه یو سرخلاصی دوزخ جوړ کړی! خلک دفقر او بی وزلئ له کبله په ډله ډله د نیمروز په سرو دشتو، د تفتان په ډاکو کی، د افغانستان او ایران ترمنځ د ژمی په ساړه یخو غرو او رغو کې د واورو او توپانو له کبله په هلاکت رسیږی! تاسو د هغو مظلومو قربانیانو لپاره د مسؤولیت کوم عملی ګام آخیستئ ده؟ ایا د تاسو په تندی د هغوی لپاره د غمشریکی کومه ګونځه را پیدا شوې ؟ یقینا چې نه! تاسو په دې آند یاست چې په افغانستان کې د مستعمراتی رژیم نه درپاتې نظام؛ دا غم ځپلی ولس او ټولنه تاسو ته په میراث کې برمته در پاتې ده. داسې نه ده! دا خلک د تاریخ په اوږدو کې چاته برمته پاتې شوی ندی ، خو تاسو د پنځو لسیزو جنګ په بهیر کې د دین ټیکه دارانو په توګه په پرله پسې وحشتناکه هډماتونکې جګړو او د زور زیاتی، وحشت او ترور واکمنی کې د خلکو شیمه او توان له منځه وړی او ستر ګواښ سره مخ کړیده. همدا نن که د خارج تګ دروازه د کوم هیواد له خوا د افغانستان د وګړو په مخ خلاصه شی، آن ستاسو ملا غیبت الله خو به هم له دې جهنمی شرایطو چې تاسو په افغانستان کې په لاس پلی کړی پښې سپکې کړی او وبه تښتی! افغانستان اوس دتاسې په واکمنتیا کې یو سوچه جهنم دی!!

د استاد او متخصص ګدایي د علمي خواکمنی نښه نده، په حقیقت کې ستاسو د خپلي غلطي پالیسی د ماتي څرګند اعتراف دی!

پوهه او د علم زده کړه، کار او اشتغال زمونږ د ملت واقعی ریښتینئ حق ده!
دا حق باید بی له کومي پلمي او جنسیتی ناندریو ورکړل شی، او که نه په زور باید واخیستل شی!
دا حق د غرونو وحشی شرمښانو ګډی او د واک او خوښي کار نده!

په وړاندی دطالبانی وحشت دګډی د نسکوریدو په لور!
په وړاندې د ټولني خواریکښو، بزګرانو ، وزګار او کارګرانو د یو والی او وحدت په لور!
ملی یو والی دانقلابی لاربښود په ملتیا د بری ضامن ده!
ژوندی دې وی د افغانستان خواریکښ ولس!

کلیوال آشنا

کمیته فرهنګی جبهه مردم افغانستان «جما»

09 زمری 1405 شمسی مطابق 31 جولای 2026 میلادی


ایمیل آدرس : - ks4920326@gmail.com - jaswrshja66@gmail.com ویبسایت : http://www.afghanpf.com